# پښتون

بنسټ ایښودونکی : باچاخان

ګڼه (۴) کال ۱۹۸۶ ع میاشت جنوري د میاشتې خپرونه


تن به په لاره د میړنو شهیده ځم
یمه پښتون د پښتنو شهیده ځم
خوچې راغونډ په یو مرکز ئې نکړم
هرې تپې ته د جرګو شهیده ځم
وائي اغیار چې د دوزخ ته به ده
زه به جنت له د پښتو شهیده ځم

حمزه „شنواری"

لیکوال „شتوری"

## ټولنیزه اولسولي
یا
## سوشیال دیموکراسي

ټولنیزه اولسولي په ۱۹ پېړۍ کښې په هیوادو کښې چې صنعت پکښې وده کړې وه د کارګرو د سیاسي غورځنګ په بڼه کښې رازېږېدلې ده لدې امله د ټولنیزې اولسولي تاریخ د کارګرو د غورځنګ تاریخ ګڼل کېدلی شي د کارګرو غورځنګ د صنعت د ودې او د کارګرو د شمېر زیاتوالي او د تولید د - مناسباتو د غیرعادلانه ویش په نتیجه کښې لومړی په انګلستان کښې منځ ته راغی . دغلته کارګر پدې هدف سره یوځای شو چې اقتصادي ټولنیز او سیاسي مناسبات ګام په ګام بدل کړي او په مظاهرو او احتجاجونو لاس پورې کړ . دغه غورځنګ دومره غښتلی او پیاوړی شو چې په (1864) عیسوي کال په لندن کښې د کارګرو بین المللي ټولنه جوړه شوه .

همدغسې په جرمني کښې په (1863) عیسوي کال د کارګرو عمومي ټولنه جوړه شوه وروسته بیا په (1869 ع) کال کښې د ببېل Bebel او لیبکنېښت Liebknecht د مشرۍ لاندې د جرمني د کارګرو ټولنیز اولسي ګوند (د جرمني د کارګرو سوشیال

( پاتې دریم مخ )

## د عبدالقدوس تندر
## لنډه پېژندګلوي

ارواښاد عبدالقدوس تندر د مولانا عبدالعزیز خوی او د مولانا سیف الرحمن لمسی او په قوم الکوزی دی .

ارواښاد عبدالقدوس تندر په ۱۳۲۱-۱-۱ هجري شمسي کال په کابل کښې زیږدلی دی او خپله لومړنۍ زده کړه ئې په غازي لیسه کښې سرته رسولې ، او خپله لوړه زده کړه ئې د کابل په پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د ژورنالیزم په څانګه کښې سرته کړې ده .

لومړي د ځوانۍ د لیکوالۍ او شاعرۍ سره ډیره علاقه درلوده او د لیسې ټولګي څخه ئې په لیکوالۍ شروع کړې وه .

په هغه وخت کښې به ده ډېر مضامین د هیواد په ورځپاڼو کښې خپرول او لیسې له وتنه وروسته ئې په دولتي مطبعه کښې هم کار کاوه .

داچه ارواښاد عبدالقدوس تندر خپل وطن او خلکو سره ډېره مینه درلوده او د همیش لپاره به ئې د خپل مظلوم اولس د هوساینې لپاره مبارزه کوله .

کوم وخت چې په (1965 ع) کال کښې د خلکو دیموکراتیک ګوند جوړ شو او لوی شمیر زیات روشنفکره او په خپل اولس مین ځوانانو پکښې ګډون درلود لومړي هم په دغه وخت کښې د افغانستان د خلکو

د جنت د دې بلبله قدوس تندره ارواښاده
تالره خپله دنیا ورانه چې ژوندون ورته شي اباده

* * *

کارنامې به ستا ژوندۍ وي د پښتون اولس تاریخ کښې
دا مو لوړه دا موږ منو ، موږ دې نه باسو له یاده



ارواښاد عبدالقدوس تندر
د پښتو د ټولنیز اولسي ګوند د مشر مرستیال

د دیموکراتیک ګوند غړیتوب ترلاسه کړ او غوښتل ئې چې د دې لارې نه خپل اولس ته او وطن ته د خدمت مصدر وګرځي .

کوم وخت چې لومړی خپله لوړه زده کړه ئې د ادبیاتو د پوهنځي د ژورنالیزم په څانګه کښې سرته ورسوله په راډیو افغانستان کې په کار پیل وکړ او ددې په څنګ کښې به ئې خپل سیاسي فعالیت هم کاوه .

( پاتې څلورم مخ )

لیکونکی "کامران"

# دیموکراسي څه ته وائي؟

دیموکراسي یوه یوناني کلمه ده چې دیمو په معنی د (خلک) او کراسي په معنی د (حاکمیت) او قدرت ته وائي
دیموکراسي یو علمي اصولي لاره او یوه نوعه د قدرت او حاکمیت ده دیموکراسي په حقیقت کښې د سیاسي سیئو او چپو لاره یوه منځګړي لار ده چې ټولو هغو ملتونو ته چې د خپلې ازادۍ لپاره هلې ځلې کوي په دیموکراتیکه توګه د خپلې مبارزې او د خپلو علمي پرنسیپونو او کړنلارې هدایت او لارښوونه کوي
په دیموکراتیک سیسټم کښې د خلکو ازادي په رسمیت پېژندل او ټولو خلکو ته مساوي حقوق ورکول د دیموکراسي اصول دي. لکه چې (Sekou Touré) د برما وائي: اصل دیموکراسي هغه وخت ممکن کېدای شي چې د ملت د خلکو د زړه د ارمانونو د پوره کولو او ساتلو د خدمت توان ولري.
که سړی په ژوره توګه سره د دنیا هر کونج ته نظر واچوي او په خاصه توګه د آسیا، افریقا او لاتیني امریکا لوړونه په ژوره توګه تحلیل او ارزیابي کړي نو دا به واضح او معلومه شي چې په دغه منطقو کښې د دیموکراسي سیسټم نه وجود لاره او نه وو.
هغه مسائل او ورځنۍ بدبختۍ او د معاشرې نیمګړتیاوې، کومې چې هلته ځای وجود لاره یوه ځي هم نه یه د دیموکراتیک اصول ولاړه ده او نه وه.
که سړی د دې معاشرې ساختمان یعني بنسټي مشکلو او زړو ته ځیر نظر واچوي نو هلته د معاشرې بنسټي جوړښت د خلکو د مختلفو نژادي، مذهبي او ژبني ټولګیو له امله د دیموکراسۍ اصول هیڅ ډول مراعت کړي او یا د دې معاشرو د بدبختیو د لرې کولو لپاره ئې د دیموکراتیکو اصولو هیڅ مراعت نه دی کړی.
هر ملت او قوم د خپلو حقوقو اخستلو لپاره په لړه او یا زیاته پیمانه د وخت مطابق هلې ځلې کړې دي کله په هغو معاشرو کښې چې طبقې او د طبقو تقسیم زیات په نظر راځي هلته هره طبقه د خپل قدرت د ساتلو لپاره لوړې ورې طبقې استثمار کړېدی لکه چې په سرمایه دارې سیسټم کښې د دیموکراسي اصول په عمل کښې د حاکمې طبقې د نماینده ګانو لپاره وجود لري او د هغوی په مفاد الوږ خرڅې چې په حقیقت او ماهیت کښې دا یو د بېلتانه یو شکل دی.
په سرمایه دارې نظام کښې دولت او ټولې حکومتي دستګاوې کوښښ کوي چې مزدوران او زحمتکښان د خپل سیاسي ژوند د لارښوونې او د دوی مخ د خپلو سیاسي فعالیتونو نه په بله خوا سوق کړي دا خبره هم ښکاره جوته ده چې په سرمایه دارې نظامونو کښې اعلام شوي حقوق د خلکو د پاره څه عملي او مادي تضمین نلري همدا زکه په اکثره وروسته پاتې هېوادونو کښې لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه د معاشرې د بنیادي تغیراتو او تبدیلولو د راوستلو لپاره پدې معاشرو کښې د مذهب، ژبې کلتور، نژاد د معاشرې جوړښت او اقتصادي زړوالي د معاشرې د اجتماعي بدمختیاوو تلو لارې یوه اندازه ښتني کړې دي.
که چیرې په هغو کوچو او کلونو د دنیا کښې مترقي دیموکراتیک سازمانونه بنا شي او د خپلو اصولو د مخکې بوتلو لپاره د مبارزې اساس په فولادین او متین عزم بنا کړي نو د دنیا د غه تیاره کوڅې به یو وخت د دغو مبارزو لو روښانه مشعل وي.
د سازمانونو جوړول د مبارزې لپاره د خلکو جوړول او په دیموکراتیکو اصولو ځان سمبالول د یو اجتماعي انسان او فرد خاصیتونه او هیلې دي.
که چیرې په وروسته پاتې ملکو کښې د دولت واک او اختیار په مترقي دیموکراتیکو سازمانونو پورې وتړلی شي، کوم سازمانونه چې د دولت اجتماعي، او اقتصادي ماشین د اولس خلکو او ټولو افرادو ته د مساوي حقوقو ورکولو توان ولري.
هر فرد د خپل کلتور او فرهنګ، ژبې او مطبوعاتو د ازادیو مستحق او د خپلو خلکو سره د معاشرې د اجتماعي مفاداتو او د اولس د بنیادي پرمختیاویو شان ځوکه وی.
کیدی شي چې دغه مترقي دیموکراتیک سازمانونه د اولس د بنیادي ارزوګانو منزل ته ورسوي. که چیرې د دنیا حالاتو ته نظر واچول شي نو ګورو په لاتینه امریکا او جنوبي افریقا کښې د دیموکراتیکو سازمانونو جوړول او مترقي دیموکراتیک سیسټمونو رویکار کول او د هغې لپاره په علمي جهان بیني ځان سمبالول او د دنیا د خلکو په قطار کښې ځان ودرول د یو زیږو - اولسونو د هلو ځلو او د دوی د تاریخ ښکارندوی ده لکه چې د تانزانیا رئیس جمهور "نیریري" وائي " د جنوبي افریقا زیات ممالک کوم چې نوی وجود ته راغلي د دیموکراتیکو او ازادي بخښو جنبشونو نتیجه ده.

ملته ولیږمه د میرویس او د خوشحال په چغه
خیبر له ورشه او نارې کړه د جلال په چغه

ځمکه تیره وکړه غوږ ونه د دوښمن کړه کانه
ویده پښتون کړه راویده اوی د استقلال په چغه

# د افغانستان د ربړي

# د شوله ایز حل لوښت

د 1979 کال د دشمبر د میاشتې د ۲۷ نېټې راهیسې په افغانستان کښې جګړه روانه ده او ویني لوبرې په شلو لو زړو وګړي د دغې جګړې قرباني شوي او کیږي. په میلیونونو ډی نه مجبوره شوي چه خپل هیواد پریږدي او په نورو ملکونو کښې ژوند سړیته ورسوي.
د افغان اولس پدې عقیده دی چې د غې جګړې لپاره د سیمې شوله په خطر کښې نه ده اچولې بلکه د ټولې نړۍ شوله.
د غه ربړه په یوځي توګه نه شي حل کیدای بلکه یوازې د شوله ایزې سیاسي لارې حل کیدلی شي. د افغانستان لانجې

( پاتې څلورم مخ )

## ټولنیزه اولسولي .....

ډیموکراټ ګوند) منځ ته راغی چې بیا په 1875 ع کال کې دغه دواړه ډلې د جرمن د کارګرو سیاسي غورځنګونو ټولنیزه اولسي بڼه غوره کړه. په لومړي سر کې د کارګرو غورځنګونو د ټولنیز عدالت د منځ ته راوستلو لپاره د اولسي ټولنولۍ (ډیموکراټیک سوشیالیزم) لاره غوره کړې وه خو بیا وروسته د کارګرو د ډکتاتورۍ ټولنولۍ - (د کارګرو ډکتاتورۍ سوشیالیزم) نظریو ته یې هم ځای ورکړ شو او د النظرئ په تېره بیا د جرمني د کارګرو په غورځنګ د (1878 ع) کال د اکتوبر د میاشتې د دوهمې نیټې څخه وروسته کله چې بسمارک Bismarck په ټولنیزو اولسوالانو (سوشیال دیموکراتانو) د لومړي ویلهلم - Wilhelm د وژلو په تور بندیز ولګاوه کرڅه هم دغه د دوه کلونو لپاره وو خو تل به اوږدېده او تر (1890 ع) کال پورې یې دوام وکړ.

د کارګرو د ډکتاتورۍ ټولنولي د پلویانو د پاره ټولنولي بې طبقاتي ټولنې (کمونستي ټولنې) د او ختلو پړاو دی.

پدې پړاو کې خصوصي ملکیت د منځه ځي او د تولید وسایل ښي کاري کېږي کوم چې د - دولتي پانګوالي (سټیټ کپیټالیزم) څخه بل شی ندی او سیاسي قدرت یوازې یو ګوند چې ځانته د کارګرو د علایقو نماینده وایي په لاس کې وي وګول کېږي. له دې هم په دا حال ګوند ونو کې چې لږ کم کارګر غړي وي.

د کارګرو د غورځنګ یوه کړه برخه د کارګرو د ټولنیز ګوند (د جرمن د کارګرو د سوشیالستي ګوند) د نامه لاندې سره یو ځای شوه لومړی د 1890 ع کال راهیسې د جرمن د ټولنیز اولسي ګوند - (د جرمن د سوشیال دیموکرات ګوند) په نامه یادیږي.

د 1868 ع کال راهیسې د دې غورځنګ سره جوخت د کارګرو یو بل غورځنګ هم په جرمن کې وده کړېده چې د جرمن د ټولنیز اولسي ګوند سره نژدې اړیکې لري او د جرمن د کارګرو اتحاد په نامه یادیږي.

د ټولنیز عدالت د منځ ته راوستلو د پاره د کارګرو غورځنګ د اولسي ټولنولۍ لاره ونیوله او په یو زیات شمېر هیوادو کې د کارګرو ټولنیز اولسي ګوندونه منځ ته راغله. د مثال په توګه په (1889 ع) کال کې د اطریش د کارګرو ټولنه د کارګرو د ټولنیز اولسي ګوند بڼه ونیوله چې نن ورځ د اطریش د ټولنولیز ګوند په نامه یادیږي. په (1894 ع) کال کې د هالنډ د کارګرو ټولنیز اولسي ګوند په (1889 ع) کال کې د هسپانیې د کارګرو ټولنیز ګوند او په (1898 ع) کال کې د روسیې ټولنیز اولسي ګوند چې د (1918 ع) کال پورې دوام وکړ منځ ته راغلل او همدغه شان په یو زیات شمېر نورو هیوادونو کې لکه ډنمارک، بلجیم او نورو.

د ټولنیزې اولسولۍ پلویان پدې عقیده دي چې د تولید ټولو وسایلو شخصي کولو ته حاجت نشته دی او خصوصي ملکیت د ټولنې حق لري خو چې ټولنیز عدالت په منځ کې خنډ نوي او د ډېرو ګوندونو له لارې د یوې داسې ټولنې جوړول چې هر څوک پکښې په ازادانه توګه سره خپل شخصیت ته وده ورکوي او د انسانانو په خدمت د ټولنې په سیاسي اقتصادي او کلتوري ژوند کې برخه اخلي.

په اوسني تاریخي پړاو کې د ټولنیزې اولسولۍ لمن څخه پرته ټولو هیوادونو ته هم پراخه شوې ده چې د استعماري یا نیمه استعماري مناسباتو لاندې دي.

په دغه هیوادونو کې ټولنیزه اولسولي د ملي ازادي بخونکو غورځنګونو په بڼه کې ښکاره کېږي چه ښه مثال یې پښتنه ټولنیزه اولسولي ده چې د پښتنو ټولنیز اولسي ګوند په جوړېدو سره یې بنسټ کېښودل شو.

د ټولنیزې اولسولۍ دغه دواړه څېرې یو د بل سره په تضاد کې نه دي بلکه په صنعتي هیوادونو کې د کارګرو د غورځنګونو او د استعماري - مناسباتو د لاندې د ملي ازادي بخونکو غورځنګونو نیژدې اوخپلوي راپه ګوته کوي ځکه چې دغه دواړه د یو شانته هدفونو په خدمت کې دي. دواړه د استثمار (استحصال) په ضد او د ټولنیز عدالت د ودې او پیاوړتیا پلوي کوي.

## د کاڼي کرښې

انسانان مه دولتي یا شي کاره کوي، دولت یا شي کاره انسانان کړه. "کارل وشمت"

بې هڅې مه پاتې کېږه ځکه چې هېڅ شی بخپله نه کېږي بلکه انسانان یې کوي. "هرودوت"

د هدف لپاره لارې لټوه خو د لارې لپاره هدف مه بدلوي. "شتوري"

## اجمل خټک

د نړۍ وینې په خوله کې، پرهرونه په سینه کې
غوږ مې ته دی انتظار کې د اذان غږ په بنا یو کې
راځي اوده نه؟ ای د شپېن سحر د سپرلي باده
چمن اخستی اوردی، د لالا سوي لمبو کې
چې موږ هم د ښتالیست دفا کې یو کې پیالې واخلو
ښکاره شه ای د ښکلي مخ سره تورو شپو کې
لټول عمر دې ځان او سو د چراغ هسې خپله
مولا خوړي ورک سره د هجران توره تیرو کې

( د ژغر لمړی ځل چاپ شو )

## نوي خبرې

ناوګه: په خواشینۍ سره موخبر شتلي ی چه د جمعیت اسلامي په نوم ډاکو ماړانو د پښتنو د ټولنیز اولسي ګوند مخکښ غړي عبدالباقي خان مشرتوب، وژلي دي. په خبر کې ویل شوي دي چه د جمعیت اسلامي په نوم ډاکو ماړانو د ډلې مشر رباني په ښلا سره د دغه ډلې ډاکو حرف یې قاتلانو په لاس چه مولوي عبدالحلیم عبدالرازق صادق، او سلیم لوهیږي ملګري عبدالباقي خان رشتیني، د جمعیت اسلامي د ډاکو ګانو د ابوعبیده بن جراح په غونډ کې چې د ګلکرو او ناولي ترمنځ د محمد ګیټ په سیمه کې پروت دی په شهادت رسېدلی دی.

د پښتنو ټولنیز اولسي ګوند د بنسټ ایښودونکي خدای بخلي عبدالباقي خان رشتیني د قتل د پېښې په هکله د دغه ګوند یو تن ویاند وویل چې پدې پېښه کې د جمعیت اسلامي قاتلې ډلې سره د لیګیو او وسلو مرسته کوونکي هم بې ګناه ندي ولې چې د قاتلانو سره مرسته د ملاتړ په قتل کې شرکت دی

**پښتونو:** ملي دیموکراتیک ګوند (نیشنل دیموکراتیک پارټي NDP-) د چل ګوند د صوبه سرحد د ځانګړي نوم تر د NDP، پښتونخواه نوم ورکړو او دا اعلان یې وکړ چې په راتلونکي کې دی د ان NDP، پښتونخواه په نامه یادیږي. اوس د نوم په ټولو رسمي او غیررسمي ورځپاڼو کې او نورو ځیرو کې د NDP، پښتونخواه په نامه یادیږي. د NDP، دپښتونخواه د ځانګړي مشر افضل خان ونایل شوه.

**نوي ډهلي:** د پښتنو د روند مشر پاچا خان د هند د کانګرس ګوند په سلمه کالیزه کې د ګډون لپاره هندوستان ته لاړ.

## د ښاغلي استاد عبدالقدوس تندر ...

داچې نوموړي ډېر عالي استعداد درلود نو په دغه اساس ده ته د ډوکتورانستي تحصیلولو لپاره د الماني اتحادي جمهوریت ته بورس ورکړ شو . داچې نوموړي د خپل وطن او د خپل اولس د ابادۍ او هوسایینې سره ډېره مینه درلوده نو ده د زده کړې په وخت کښې ئې سیاسي فعالیت ته هم ادامه ورکړه .

د مثال په توګه : کوم وخت چې دی د الماني اتحادي جمهوریت ته راغی نو د نورو وطن پرستو او روښانفکره ځوانانو سره ئې یوځای د الماني په اتحادي جمهوریت کښې د لمړي ځل لپاره د افغاني پوهیدونکو د ټولنې بنسټ د فرانکفورت په ښار کښې کېښود او خپله ئې پکښې ډېر فعاله رول ولوباوه .

سربېره پردې ده د نورو ملګرو سره د افغاني - پوهیدونکو بله ټولنه د الماني د اتحادي جمهوریت د کولن په ښار کښې او د پښتنو او بلوڅو ملي ازادي ټولنه ئې د فرانکفورت په ښار کښې جوړه کړه .

نوموړي د کابل په پوهنتون کښې د پوهیدنې په وخت کښې د افغان اولس د ابادۍ او سوکالۍ لپاره نوښتونه کول او مقالې به ئې په افغاني مطبوعاتو کښې خپرولې نو ځکه نوموړي په خپل اولس کښې ډېر محبوبیت درلود .

کوم وخت چې په افغانستان کې په 27 اپریل (1978ع) کال د خلقو دیموکراتیک ګوند سیاسي واک په لاس کې واخستی نو نوموړی د سیاسي فعالیت او ټولنپالنې پوهې په اساس افغانستان ته وغوښتل شوه او هلته د باختر اژانس د رئیس په حیث وټاکل شوه او خپله وظیفه ئې په صادقانه توګه سرته رسوله

کوم وخت چې شورویانو په افغانستان باندې د اولسونو د حقوقو په خلاف او یو غیر قانوني یرغل وکړ او خپل پرچمي ببرک کارمل ته ئې سیاسي قدرت واکي په لاس کې ورکړي نو قدوس تندر دغه - تیری او استعماري عمل ونه زغملی شو او هغه وو چې خپله خاوره ئې پرېښوده او د الماني اتحادي جمهوریت ته راغی .

کوم وخت چې نوموړی د الماني اتحادي جمهوریت ته راغی نو د ملګرو سره یوځای ئې د پښتنو د ټولنیز اولسي ګوند بنسټ کېښود او د خپلې پوهې او - سیاسي تجربو له امله د پښتنو د ټولنیز اولسي ګوند د مشر د لمړي مرستیال په توګه وټاکل شوه .

د ده سره یوځای په دې ګوند کې د هیواد په دننه او بهر کښې لوړ رتبه شمېر وطن پالونکي افغانان - شامل او تنظیم شول او د قوم او وطن د ازادۍ چیغه ئې پورته کړه .

ښاغلی استاد عبدالقدوس تندر د (27.7.1985) عیسوي کال د زړه د ناروغۍ له امله د سهار په شپږو بجو له دې فاني دنیا څخه سترګې ونږلې او د الماني د اتحادي جمهوریت د کولن په ښار کښې په شاندار مراسمو سره په (5.8.1985) عیسوي کال خاورو ته وسپارل شو .

ښاغلی استاد عبدالقدوس تندر د افغان اولس لپاره یو نه هېرېدونکی او ویاړلی شخصیت وو او د ده کارنامې به د افغان اولس په تاریخ کښې نغښتلې او نه بېلېدونکې برخه وي ځکه د عبدالقدوس تندر مړینه نه یوازې د هغه د کورنۍ او ملګرو لپاره بلکه د ټول افغان اولس لپاره یو لوی تاوان وو . د دې نومیالي او ټولنپالي پښتون یاد به تل د افغان اولس په زړه کښې ژوندی وي .

## د افغانستان ربړې ......

ورځ په ورځ نړیوال خوی غوره کړېدی لدې امله د افغان اولس د وژنو دا لوړه نده چې دغه ربړه یوازې په ځپله حل کړي نړیوالو مرستو ته یې لاره کښې اړتیا لیدل کیږي . په وطن کښې د پښتنو د ټولنیز اولسي ګوند نمایندګانو د نورو ملي او مترقي ډلو سره یوځای د شولې د دې لوښت مسوده تیاره کړېده او په بهر کښې د پښتنو ټولنیز اولسي ګوند د مشرانو جرګې ته راستولې ده او دا دنده ئې ورپه غاړه کړېده چې د شولې د دې لوښت د عملي کولو لپاره کاموته واخلي .

په دغه لوښت کښې داسې پیشنهاد کیږي

۱- د افغانستان په هکله دې د شولې لوړه نړیواله غونډه جوړه شي په دغه غونډه کښې دې لمړناګه دواړه ستر قدرتونه ، د اروپا د ټولنې د سوسیالستي بین المللي او ناپېیلو هیوادو نمایندګان برخه واخلي .

۲- د دغه نړیوالې غونډې د اجنډې د پاره درې ټکي پیشنهاد کیږي .

د افغانستان څخه دې ټول شوروي پوځونه او وزي او بهرنۍ ګوتې وهنه دې بنده شي .

د دغې شولې د ساتنې لپاره دې د ملګرو ملتو د موسسې پوځونه افغانستان ته راشي .

ټول سیاسي بندیان دې خوشې شي .

افغاني کډوالو ته دې داسې امکانات - برابر شي چې بیرته خپل هیواد ته په عزت لاړ شي .

د ملګرو ملتو د موسسې د څارنې لاندې دې لویه نمایندهٔ لویه جرګه په دې هدف راوغوښتل شي چې یو موقتي (عرضي) ، حکومت جوړ کړي .

د دغه حکومت دنده باید دا وي چې د دیموکراتیکو اصولو لاندې پارلماني ټاکنې وکړي او په دې توګه د لوړ افغاني حکومت جوړېدل امکان ورکړي چې د موقتي - حکومت ځای ونیسي .

موږ په ټوله نړۍ کښې د شولې د ښتنه ګرو څخه دا هیله کوو چې د دغې یو نړیوالې غونډې د منځ ته راتګ د پاره کار وکړي او په دې توګه د افغانستان د ربړې په سوله ایز حل کښې برخه واخلي.

خپرونکی
او
ژمنوار :

Sozialdemokratische Organisation
der Paschtunen e.V.
(Mitglied der Pashtoons Social Democratic Party)
Postfach 10 15 26
5000 Köln 1
West Germany

د خپرونې او لیکنې د چارو مشر :

M. Scherien
Breslauer str- 21
2160 STADE
W. Germany
Tel: 04141 - 46214

د پښتون د درې میاشتنۍ خپرونې لپاره خپل مضمونونه او لیکونه د خپرونې او لیکنې د چارو د مشر په پته رالیږۍ .

## خبرتیا

د پښتنو ټولنیز اولسي ګوند د پښتونخوا په نامه شپږمیاشتنۍ مجله په پښتو ، انګریزي او الماني ژبو خپروي . هیله ده چې د ګوند په پته خپل مضمونونه او لیکنې رالیږۍ .

## په جرمني کښې " پښتون رسالې" د چاپ په هکله یادونه:

په کال 1928ع د مۍ په میاشت کې باچا خان بابا "پښتون رساله" جاری کړه، چې کله به اووه ورځنۍ، کله لس ورځنۍ، کله میاشتېنۍ او کله به درې میاشتنۍ خپریدله.
په 1930ع کې چې باچا خان بابا بندي شو، نو پښتون رساله هم بنده شوه، چې بیا د1931ع کال د مۍ په میاشت کې ښاغلي عبدالخالق خان خلیق ته حواله شوه .
کله چې رساله په ډسمبر کې چاپ شوه، نو بیا بنده شوه ، په کال 1938 ع کې یو ځل بیاجاری شوه او په1941ع کې بنده شوه، په 1945 کې بیا خپره شوه او د پاکستان دجوړیدو سره سم بیا بنده شوه، چې دا لړۍ (سلسله) همداسی وغزېده

پدی ترڅ کې د « پښتون رسالې» دبنسټ اېښودونکي (باني) فخرافغان باچا خان بابا په غوښتنه او دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د مشر ډاکترکبیر ستوري په لارښونه د پښتون سوشل دیموکراټیک پارټۍPSDP په المان کې د پښتون رسالې خپرولو ته ملا وتړله اوپه 1981 ع کال کې ئې یوه ځانګړې ګڼه په الماني ژبه هم چاپ او خپره کړه.
په 1982 ع کال دمارچ په میاشت کې ئې لمړنۍ ګڼه ، چې اخباري بڼه ئې لرله چاپ اوتیته (خپره) شوه.
د 1995 ع کال تر جنورۍ ئې تر یولسمې ګڼې پورې چاپ او خپرې شوې
درنښت
نصیر ستوری